# د افغانستان اسلامي امارت

## د ملي دفاع وزارت

### د ستراتیژۍ او پالیسۍ معاونیت

### د ستراتیژیکې پلانګذارۍ او دفاعي پالیسۍ ریاست

**د ۱۴۴۴ هـ ق کال د ملي دفاع وزارت عمده فعالیتونه او لاسته راوړنې**

نېټه: ۱۴۴۵/۱/۲

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**د ۱۴۴۴ هـ ق کال د ملي دفاع وزارت د عمده لاسته راوړنو او فعالیتونو لنډیز:**

## د اداري پېژندنه:

لکه څنګه چې په جهان کې معمول ده اردو د هېواد واقعي رسالت او د دفاع مسؤلیت، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي نوامیس، د هېواد خپلواکي او د معنوي ارزښتونو ساتنه په غاړه لري.

د هر هېواد لپاره دفاع او امنیت یوه حیاتي او اساسي مسله ګڼل کیږي، نو له همدې امله د ملي دفاع وزارت د هېواد د دفاع او امنیت اساسي بنسټ دی، د افغانستان ملي قدرت یو له یادو وسیلو څخه ګڼل کیږي، چې د سولې او ثبات په راوستلو، د افغانستان د ټولو قشرونو تر منځ د یوالي او د هېواد د ټولو وګړو او مجاهد ملت د هوډ او ارادې تمثیل کونکي دي.

ملي اسلامي اردو د اعلاء کلمت الله، د اسلامي ارزښتونو، ملي نوامیسو، د افغانستان اسلامي امارت حاکمیت، د خپلواکۍ ساتنه، د ځمکنۍ بشپړتیا، د افغانستان مقام، د منطقوي او بین المللي ټولنو پر وړاندې لوړ ساتنې مسولیت په غاړه لري او د افغانستان د دفاعي او امنیتي وزارتونو له جملې څخه یو کلیدي وزارت ګڼل کیږي.

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت خپله دیني، ملي او تاریخي دنده بولي چې د هغې په چوکاټ کې جیوپولیتیکي او جیوستراتیژیکي موخې داسې تنظیم کړي چې د هېواد او د اسلامي امارت د رهبرۍ لید لوری، ساختار او د ملي اسلامي اردو پرمختګ د اوږد وخت لپاره د افغانستان دفاعي اړتیاوو ته ځواب ویونکی وي او په دې قادر وي چې د اسلامي امارت او د هېواد د حاکمیت عظیم رسالت لپاره ځواب ویونکی وي.

د افغانستان اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت دنده د امنیت تامین او د مناسبو امنیتي شرایطو برابرول دي، تر څو د اغیزمنو او رغنده بنسټونو له خوا د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي خدمتونو وړاندې کول وي.

دغه وزارت تل په اوس او راتلونکي کې د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا ته د ورپېښو واقعي او احتمالي ګواښونو پر وړاندې جدي، پرېکنده او متناسب اقدامات کړي او له ګاونډیانو سره د نه لاسوهنې، ښه ګاونډیتوب او متقابل احترام اصولو ته ژمن دي.

## د ملي دفاع وزارت دندې او ستراتیژیک نقش:

- اعلاء کلمت الله، د اسلام مبین دین حاکمیت، د اسلامي او ملي ګټو او ارزښتونو، د خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه ساتنه.
- د امنیت تامین، د قانون د تنفیذ څخه ملاتړ، د ملي انکشاف او بیا رغونې څخه ملاتړ او د شریعت په چوکاټ کې د بشر حقونو رعایت کول.

- په ځانګړو حالاتو کې د کورنیو چارو وزارت له محترم مقام څخه ملاتړ او د امنیتي ځواکونو د سوق او ادارې مسوولیت په غاړه اخیستل، کله چې ګواښونه او بحرانونه د پولیسو له توان څخه بهر وي.
- د افغانستان اسلامي امارت د نورو وزارتونو او بنسټونو څخه د مخدر توکو د کښت، ترافیک او قاچاق د مخنیوي په برخه کې ملاتړ کول.
- د اړتیا په صورت کې په بیړنیو حالاتو، طبیعي او غیر طبیعي پیښو او نورو بحرانونو کې ملکي وګړو ته د مرستې رسول او د بحرانونو په مخنیوي او د بیړنیو حالاتو په کنټرول کې له هغوی څخه ملاتړ کول.
- په هېواد کې د امنیت د لا ټینګښت په موخه د دفاعي او امنیتي ارګانونو سره همغږي.
- په اوږد مهال کې به د ملي دفاع وزارت د اسلامي ارزښتونو، خپلواکۍ، اسلامي او ملي ګټو، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي حاکمیت او د هېواد د معنوي ارزښتونو د ساتونکي په توګه خپلې دندې ترسره کوي.

## جوړښت او تشکیلات:

د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز پر قرارګاه وو، د مرکزي او سیمه ییزو قول اردو ګانو، د هوایي ځواک عمومي قوماندانۍ او د هوایي دافع هوا، حمایوي او تامیناتي قوماندانیتونه وو، چې د هېواد په اووه ګونو زونونو کې شتون لري.

د هېواد دفاعي ځواکونه چې په لیکو کې اسلامي ارزښت لرونکي، مسلکي او د زغم په روحیو سمبالو او ژمنو اشخاصو څخه جوړه شوې ده، د افغانستان اسلامي امارت ته وفادار، د شایسته سالارۍ اصولو په نظر کې نیولو سره ایماني او وجداني دندې په سرته رسولو، د هیواد د مجاهد پروره خلکو او افغانستان پر وړاندې د مسؤلیت احساس کوي.

په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې د ملي دفاع وزارت عمده لاسته راوړنې.

## ۱ د بیا رغونې برخه کې:

- په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې د ملي دفاع وزارت د تشکیلاتو مرور او بیا کتنه.
- د ملي دفاع وزارت د دندو لایحې بیاکتنه او اصلاح .
- د ملي اسلامي اردو په لیکو کې د مجاهدینو د شاملیدو په موخه د نوم لیکنې فورمې ترتیب او ویشل شوي، چې په پایله کې یې د ملي دفاع وزارت په ټولو قطعاتو او جزوتامونو کې ۱۷۰۰۰۰ مجاهدینو نوم لیکنه شوې او دغه بهیر بشپړ شوی دی.
- د افغانستان اسلامي امارت په لیکو کې ۳۵۵۸۷ تنه چې سابقه یې نه لرله او مسلکي نه وو، د لیکو د تصفیې او بیاکتنې کمیسیونونو د لارې ویستل شوي دي.
- په نوو ګمارنو کې ۲۱۴ تنه مجاهدین د لوړ رتبه (جنرالۍ) په بستونو کې توظیف شوي او (۳۵) تنه مجاهدین د لوړ رتبه (جنرالۍ) په بستونو کې د سرپرستانو په توګه ګمارل شوي دي.

- د منظور شوي تشکیل له مخې (۱۶۶۳۱۷) تنه مجاهدین، منصبداران، بریدملان، سرتیري او (۴۰۸۱) تنه مامورین او خدماتي کارکونکي ګمارل شوي دي.
- (۶۴۹) تنه منصبداران او بریدملان تقاعد شوي او (۲۰۲) تنه تمدید خدمت شوي، د تیرو نظامیانو(۹۴۹) تنه مسلکي منصبداران او بریدملان تثبیت رتبه شوي دي.
- (۴۰۰) تنه ملکي پرسونل د بریدملۍ په بستونو کې تثبیت رتبه او (۳۴۹) تنه کارکونکي په باالمقطع توګه د ملي دفاع وزارت د قطعاتو او جزوتامونو کې د الکترونیکي وسایل او تخنیکي وسایطو د بیا ځلې ترمیم او جوړولو په موخه جذب شوي دي.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د پېژند مسؤلینو ته د کاري ظرفیتونو د لوړولو په موخه ښوونیز سیمینارونه تر سره شوي دي.

## ۲ د اوپراسیون په برخه کې:

- د پرېکنده او تصفیوي عملیاتو پلان جوړونه او تطبیق او همدا راز د افغانستان ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو له خوا د هېواد په اوه ګونو زونونو کې د اوپراسیوني پرسونل د عملیاتي فعالیتونو تطبیق، د مواصلاتي لویو لارو پرانیستل او د ثبات ساتل وو، چې د هیواد اقتصادي ودې لپاره یې زمینه برابره کړې ده.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو اکمالات په هوایي او ځمکني ډول په ټاکلي وخت او د امنیتي تدابیرو په لړ کې د لویو لارو قطارونو د امنیت ټینګښت ته په دوامداره توګه.
- د کورنیو چارو وزارت سره په همغږۍ، په ښارونو او لویو لارو کې ثابتې پوستې، ګرځنده ګزمې او چک پاینټونو رامنځته کول.
- په جوزجان، فاریاب او سرپل ولایتونو کې د امو سیند د نفتو د استخراج د امنیت د تامین په موخه ګډ پلان ترتیب او اړوندو چارواکو ته وړاندې شوی دی.
- د دغو فعالیتو په پایله کې (۸۴۱۸) میله وړې وسلې، (۳۱۸) میله درنې وسلې، (۵۰۴۴) موټر سایکلونه، (۵۳۸) بېلابېلا ډول وسایط، (۱۲۰۵) کیلو ګرامه چاودیدونکي توکي، (۹۱۷) کړۍ لاسي بمونه ،(۸۴۱) کړۍ ماینونه، (۵۳۱) مخابرې، (۴۵۳) دوربینونه او یوه اندازه د وړو او درنو وسلو مهمات لاسته راغلي دي.

## 3 د سرحداتو په برخه کې:

- د افغانستان ۲۰ ولایتونه ۹۰ ولسوالۍ او د ډیورنډ فرضي لیکه له ۶ همسرحده هېوادونو سره نښلول شوې، ۶۳ کنډکونه په ۳۷ کمپونو، ۱۰۸ بیزونو او ۶۰۰ پوستې د امنیتي ګواښونو د مخنیوي له پاره د وسایلو او امکاناتو په درلودلو سره په ټاکل شوو سیمو کې ځای پر ځای شوي.
- د سرحداتو د ساتنې لپاره د ۱۴۴۴ هـ ق کال د ملي دفاع وزارت په تشکیلاتي مرور کې ۴۴ سلنه د سرحدي ځواکونو په تشکیل کې زیاتوالی.

- د سرحدونو د ساتنې او د ګواښونو د مخنیوي او په ټاکلي وخت کې د ځواکونو اکمالات د سرحد او فرضي خط په اوږدو کې سرحدي پوستو ته مواصلاتي سړکونو د جوړولو په دوام یادو سرحدي پوستو ته په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې ۲۸۸ کیلو متره سړک رغول شوی دی او دا لړۍ دوام لري.
- د سرحدي ځواکونو د ظرفیت لوړنې په برخه کې ۱۰ ورځینی او یو میاشتیني سیمینارونو جوړول په مرکز او سیمه ییزو قول اردو ګانو کې.
- د سرحدي ځواکونو قطعاتو او جزوتامونو ته بنسټیز مسلکي کورسونو برابرول.
- د لومړیتوب په اساس سرحدي ځواکونو ته د پوځي یونیفورم برابرول.
- د هر ډول قاچاق په ځانګړې ډول د مخدره توکو د لیږد د مخنیوي په موخه په سرحدونو او فرضي خط په اوږدو کې د همغږۍ ګډه کمیټه د کورنیو چارو وزارت او نورو اړوندو ریاستونو سره جوړې شوي دي.

## 4 د ښوونې او روزنې په برخه کې:

- د ملي اسلامي اردو ځواکونو ښوونه او روزنه د ملي اسلامي اردو د پر مختګ او ځواکمنتیا او همداراز د دغو ځواکونو کړنې د اسلامي او ملي ارزښتونو، خپلواکۍ، د هېواد د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې په برخه کې یو له اساسي عواملو څخه ګڼل کیږي. په همدې موخه د ملي دفاع وزارت کوښښ کړی تر څو د ملي اسلامي اردو ځوکونو ته په تعلیمي او تحصیلي موسساتو کې د تعلیماتو زمینه برابره او بیرته خپلو دندو ته راستانه شي.
- په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې د اسلامي ملي اردو د تعلیمي، تحصیلي، ښوونځیو او تعلیمي مرکزونو څخه ۲۴۷۷۴ تنه د قطعاتو او جزوتامونو منسوبین فارغ شوي.
- په ملي پوځي اکاډومۍ کې د ۵۰۰ تنو او د حربي ښوونځي په لسم او یوولسم ټولګیو کې د ۴۹۱ تنو محصلینو او متعلمینو جذبول.
- د معالجوي طب او ستوماتولوژي پوهنځیو ۳۱ تنه د پنځم ټولګي فارغانو ستاژ دورې ته پیژندنه.
- د ملکي خدماتو ۲۸۵ تنه کارکونکو ته ۲۰ ښوونیزې برنامې تر سره شوي دي.
- د ۶۰۰۰ تنه کم لوستو بریدملانو او نالوستو سرتیرو لپاره په ورځ کې دوه ساعته د سواد زده کړې درسونه د ملي اسلامي اردو په قطعاتو او جزوتامونو کې ترسره شوي.
- د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز په قطعاتو او جزوتامونو کې ۷۰۰ خدماتي کارکونکو ته د سواد زده کړې برنامو برابرول.

## ۵ د پالیسیو په برخه کې:

- د هېواد دفاعي او امنیتي بنسټونو کې ۶ اساسي سندونو بیا کتنه پیل او تر دې مهاله یې ۹۵ سلنه کار پرمخ تللی دی.
- د هېواد جیدو علماوو په شمول د تخنیکي کمیټې کار د حنفي فقې پلې کولو کار د یادو سندونو د بیا کتنې په موخه پیل شوی او ۹۵ سلنه پر مختګ یې کړی.

- د ملي دفاع وزارت د تشکیلاتي جوړښت او د شرایطو او اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د ملي دفاع وزارت د بېلابېلو څانګو ۴۹ عنوانه پالیسیو او طرزالعملونو بیا کتنه ترسره شوې.
- په قطعاتو او جزوتامونو کې له نشه يي توکو سره د مبارزې د پالیسۍ او د ملي اسلامي اردو په لیکو کې د نشه يي توکو د کارونې د مخنیوي په موخه د ستراتیژیکو لارښوونو د تشریح او وېش په برخو کې د ښوونیزو سیمینارونو جوړول.
- د افغانستان اسلامي امارت د روحیې سره سم د ملي اسلامي اردو د تعلیمي او تحصیلي موسیساتو ۱۴ نصابه باندې بیا کتنه شوې.

## ۶ د خارجي مرستو د ټولو په برخه کې:

- د عربي اماراتو څخه د ۷۵ قلمه کومکي دوا او د (هیمو دیالیز، لابراتوار) څلورو ماشینونو ترلاسه کول.
- د قطر هېواد څخه د ۱۳۹ قلمه دوا، ۳۹ قلمه طبي ملزمې او ۱۲ قلمه طبي توکو مرسته ترلاسه شوې.
- د هندوستان هېواد څخه د ۳۶۹ قلمه دوا او د کرونا واکسین ۵۰۰ زره دوزه مرسته لاسته راغلې ده.
- د روسې هېواد څخه د ۳۸ قلمه دوا او طبي توکو مرسته ترلاسه شوې.
- د ایران اسلامي جمهوریت څخه ۱۰۲ قلمه دوا مرسته ترلاسه شوې ده.

## ۷ د حساب ورکونې او روڼتیا په برخه کې:

د شفافیت او حساب ورکونې تامینول د افغانستان د اسلامي امارت د ملي دفاع وزارت یو بل لومړیتوب دی. دغه وزارت په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې د مالي، اداري او تدارکاتو په سیستم کې د اصلاحاتو او د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جروتامونوکي د منظمې پلټنې له لارې د روڼتیا او د ملي بودجې د ضایع کیدو د مخنیوي او شفافیت د رامنځته کولو هڅه کړې ده.

- د ۱۴۴۴ هـ ق کال منظور شوي تشکیل په اساس د تفتیش مدیریتونه او امریتونه د مرکز او سیمه ییزو قول اردوګانو او لواګانو په کچه بیرته فعال شوي چې د دغو په رامنځته کیدو د اړوندو قطعاتو ستونزو او د پرسونل نیوکو ته پر وخت رسیدنه شوې ده.
- په مرکز، قطعاتو او جزوتامونو کې د اسلامي اردو د تفتیش د برخې اړوند نوي مجاهدینو ته څلور دورې بنسټیز کورسونه تر سره شوي دي.
- په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې جمعا ۳۶۳ د تفتیش (پلان شوي، ځانګړي او تعقیبي) ټیمونه په مرکزي او سیمه ییزو قطعاتو ته توظیف شوي.
- د ۵۱۱۴۳۶۹۰۰ افغانیو په ارزښت پوځي او لوژستیکي توکي لکه: وسلې، وسایط، مهمات، پوځي تجهیزات، مفروشاتي توکي، مخابرې او داسې نور جنسونه چې له قید او ثبت څخه پاتي وو د ټاکل شوي ټیمونو په واسطه د اړوندو ادارو د متمدینو په جمع او قید کې راغلي دي.

- د ملي دفاع وزارت د شکایتونو اوریدلو مرکز ته ۱۸۳۱۵ شکایتونه شوي او هغې ته رسیدنه شوې ده.
- د ملي اسلامي اردو په کچه د محاسبوي او مفتشینو د ظرفیت لوړونې دوه دورې سیمینارونه ترسره شوې دي.

## ۸ په هوايي برخه کې:

- د ۱۴۴۴ هـ ق کال د هوايي ځواکونو عمومي قوماندانۍ ۳۶۹۳ وظیفوي پروازونه، ۱۶۳ ښوونیز پروازونه او ۱۶۲ ابلوتي پروازونه تر سره کړي، چې په پایله کې ۳۱۴۲۴ تنه مسافر، ۳۱۴ تنه ټپیان او د طبعي او غیر طبعي پیښو ۱۷۹ تنه شهیدان او ۱۷۶۸۶۳ کیلوګرامه وزن د مرکز څخه ولایاتو ته او همداراز د ولایاتو څخه مرکز ته لیږدول شوي دي.
- د هوايي پوهنتون په قوماندانۍ کې مسلکي او تقویتي کورسونه جوړ شوي چې اوس مهال ۱۲۳ تنه مجاهدین، ۱۵۰ تنه منصبداران او ۱۰۵ تنه بریدملان په یادو کورسونو کې په زده کړو بوخت دي.
- د ۱۱چورلکو او ۵ باله ثابته الوتکو ریسورس تمدید شوي دي.
- ۸ چورلکې او ۲۰ بال ثابت الوتکې بیرته رغول شوي دي.

## ۹ د حقوقو او جنايي څیړنو په برخه کې:

د ملي اسلامي اردو منسوبینو ته د جګړې د قوانینو او د شریعت له مخې د بشري حقونو د نورو معیارونو په اړه چې د وسله والو شخړو پر مهال باید مراعات شي، خبرول د ملي دفاع وزارت له یو بل لومړیتوبونو څخه دي.

- د وسلوالو شخړو د قانون، د جګړې په بهیر کې د ملکي وګړو د ملاتړ او ساتنې، د علیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) د فرمانونو او احکامو، د بین المللي بشر.دوستانه قانون ملاتړ او تطبیق په تړاو ښوونه د شریعت سره سم، د کال په بهیر کې د ملي اسلامي اردو منسوبینو ته ترسره شوې.
- څرنګه چې د فتحې څخه وروسته د هېواد په ګوډ ګوډ کې امنیت تامین دی او جګړیزو خوځښتونو ته اړتیا نشته له همدې امله د ملکي تلفاتو ګراف د هېواد په کچه صفر ته رسیدلی دی.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د حقوقي برخې پرسونل ته د دوامداره حقوقي درسونه پر مخ وړل.
- د جزا کوډ لومړی نمبر ضمیمه، د سرغړونکو لپاره د تادیب مقرره او د وسله والو شخړو قانون، په هرو ۱۵ ورځو کې یو ځل د افغانستان ملي اسلامي اردو اړوند منسوبینو ته تشریح او توضیح کیږي.

- د افغانستان ملي اسلامِ اردو د قطعاتو او جزوتامونو د پرسونل لپاره د چاپيريال ساتنې او د چاپيريال حفظ الصحيي په اړه د پوهاوي سيمينارونو جوړول.
- په ټوليزه توګه د ۴۶۸ شکمنو او تورنو کسانو په ګډون ۲۶۸ جزايي دوسيې تر څېړنې لاندې دي، چې له دې جملې څخه د ۱۸۶ تورنو کسانو په ګډون ۱۶۳ جلده د شرعي پرېکړو د صادرولو لپاره باصلاحيته پوځي محکمو ته سپارل شوي دي.
- د حقوقي ۷۶ قضيو څېړل.
- د تورنو او شکمنو کسانو د حقونو د تامين له پاره د اسلام مبين دين د شرعيت او نافذه قوانينو په رڼا کې د قطعاتو او جزوتامونو د جنايي تحقيقاتو او حقوقي مشاوريتونو کړنو څخه د څېړنې په موخه د يو تحقيقاتي پلاوی ټاکنه.

## ۱۰ د عقيدتي فرهنګي، امر بالمعروف، نهي عن المنکر او دعوت ارشاد په برخه کې:

- د اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمانو د تطبيق، اطاعت، نظم او ډسپلين، پاکۍ او صفايي په هکله د فوق العاده درسونو پر مخ وړل.
- د بيت المال ساتنې او د عاشورا د ورځې په هکله د فوق العاده درسونو پر مخ وړل.
- د قطعاتو او جزوتامونو منسوبينو لپاره د سيرت النبي صل الله عليه وسلم د درې ورځنيو سياليو په لار اچول.
- د ملي اسلامي اردو د قول اردو ګانو او لوا ګانو په کچه د ۵۰ ديني مدرسو جوړول.
- د مرکزي قطعاتو ديني مدارسو ته د ۲۷۰۰۰ جلده ديني کتابونو اخيستل.
- د ملي دفاع وزارت اړوندو قطعاتو او جزوتامونو د مدارسو لپاره ۵۰۰۰۰۰ افغانۍ د ديني کتابونو د ترلاسه کولو په موخه نقداً ورکول شوي دي.
- د (انفعال او توبه) سورتونو د تفسير شريف ۲۰۰۰ توکه کتابونه چاپ او توزيع شوي دي.
- د فتح مبين، د روژې مبارکې مياشتې او د قربانۍ په هکله بروشرونه چاپ او ويشل.
- په اونۍ کې دوه ورځې عقيدتي او فرهنګي درسونه د ملي اسلامي اردو په ټولو قطعاتو او جزوتامونو کې منصبدارانو او بريدملانو او سرتيرو ته په مخ وړل کيږي، چې د ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا، خپلواکۍ او د ملي او اسلامي ارزښتونو ته د انګيزې لوړلو لپاره ډېر اغيزناک ثابت شوي دي.

## ۱۱ د روغتيايي خدماتو په برخه کې

- د ملي دفاع وزارت د قطعاتو او جزوتامونو ټول مرکزي او سيمه ييز روغتونونه او کلينيکونه(د شهيد سردار محمد داود خان روغتون، د سهيلا صديق نسايي ولادي او ماشومانو روغتون، دويم نمبر ضميموی روغتون، مرکزي پوليکلينيک، پنځه سل بستريزه سيمه ييزه روغتونونه، پنځوس بستريزه دوه تروما سنټره او ۱۶۵ روغتيايي کلينيکونه) فعال او د امکان تر حده مجهز شوي دي، چې د اسلامي امارت دفاعي او امنيتي ارګانونو ته په وړيا توګه معياري خدمات وړاندې کوي.

- د ملي دفاع وزارت اړوند روغتونونو او روغتیايي مراکزو ته ۱۲۷۷۰۹ تنه مریضانو مراجعه کړې چې له دې جملې څخه ۱۰۷۶۱۹ تنو ته درمل ورکول شوي، ۲۰۰۹۰ تنه بستر شوي، چې له دې جملې څخه ۹۸۲۲ تنه په مختلفو برخو کې عملیات شوي.
- د کندهار سیمه ییز روغتون په چوکاټ کې د مستشفي عمر په نوم د نوي روغتون جوړونه او ګټې اخیستنې ته سپارنه.
- د معلولینو او معیوبینو لپاره د نوو مرکزونو جوړول او هغوی ته د رسیدنې تر څنګ د سواد زده کړې او حرفوي زده کړو زمینه برابرول.
- د یو کال په ترڅ کې د اسلامي ملي اردو د صحي مراکزو ۳۹۳ پایې ډول ډول طبي ماشین آلات ترمیم شوي او ۷۶ پایې مختلف طبي ماشینونه په روغتونو او صحي مراکزو کې نصب شوي دي.
- د روغتیايي چارو وزارت مرکزي ستاک ته ۱۴ قلمه درمل، ۲۰ قلمه لابراتواري ریجنټ او ۱۲ قلمه طبي توکي مرسته شوي دي.
- د هېواد تولیدي شرکتونو او د هېواد څخه بهر ۳۸۵ قلمه درمل، ۴۶ قلمه طبي ملزمې، ۳ ایکسرې ماشینونه، ۸ قلمه د ډیالیزم ملزمې او ۵۸ قلمه لابراتواري ریجنټونه او د غاښونو مواد اخیستل شوي دي.
- ۳۱ تنو معلولینو لپاره برقي ویلچرې ویشل شوي او ۴۵ تنه نور معلولین د اړوندو ولایتونو د سره صلیب نړیوالې کمیټې ته ورپېژندل شوي دي.
- ۱۵۰ تنو معلولینو ته د خصوصي سکټور له لورې مصنوعي اعضاوې چمتو او ویشل شوي دي.

## ۱۲ د زیر بناوو جوړولو په برخه کې:

- د ۲۰۱ خالد بن ولید قول اردو د ۳۱۳ مرکزي قول اردو ګارد ټاورونه د صحت عامې څلور لارې ته نږدې دوه بلاکونه، د ۳۱۳ مرکزي قول اردو دریمې لوا قوماندانۍ، د ۲۰۷ الفاروق قول اردو قوماندانۍ، د ۲۰۳ منصوري قول اردو د څلورمې لوا اړوند د لوګر ولایت حضر.کمپ، د ۲۰۷ الفاروق قول اردو دریمه لوا په بادغیس کې، د ۲۰۳ منصوري قول اردو قرارګاه، د انجنیري ملي لوا، ښاري بریښنا سره نښلول شوي او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي.
- د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د ملي دفاع وزارت د املاکو د سپارلو په موخه د یوه کمیسیون جوړېدل چې اوس مهال ترې ګټه نه اخیستل کېږي، څو د تدارکاتو قانون، د ځمکې د ملکیت قانون او غوښتنې سره سم د جوړ شوي کمیسیون له لارې عارضو کسانو ته په قرارداد وسپارل شي.
- د کابل، ننګرهار، بلخ، لغمان، غزني او پکتیا ولایتونو کې چې د ملي دفاع وزارت په جایدادونو باندې د خلکو له خوا دوکانونه جوړ شوي وو د کرایه کتابچې ویشل شوي چې په دې کار سره ۱۷۰۹۵۴۵۴ افغانۍ را ټولې شوې او بانک ته ورکړل شوي دي.
- د شهید سردار محمد داود خان روغتون کې د ناروغانو د اسانتیاوو له پاره ۵ لفټونه چې غیر فعال وو بیا ځلې ترمیم او ګټې اخیستنې ته چمتو شوي دي.

- پــه ۱۴۴۴ هـ ق کــال کې جمعــا ۴۴۸۴۸۹ کیلــو مــتره سړک رغــول شــوی دی.

## ۱۳ د قطعاتو او جزوتامونو د اکمال په برخه کې:

- په ۱۴۴۴ کال کې ۴۶ قراردادونه شوي دي چې په دغه قراردادونو کې د ۴۰۰ میلونو افغانیو په شاوخوا کې د افغانستان اسلامي امارت په ګټه صرفه جویي شوې ده.
- د بیت المال د ساتنې په موخه ټولې ډیپو ګانې (د وسلو،د وسلو پرزه جاتو، د وسایطو پرزه جاتو، د مهماتو او البسې ډیپوګانو) موجودي پیل شوې چې تر اوسه دوام لري.
- د پوځي ملبوساتو مدیریت بیرته فعال او د زیات شوي تشکیل پر اساس فني پرسونل په بېلا بېلو څانګو کې په کار ګمارل شوي دي.

## ۱۴ د مرستې رسونې په برخه کې:

د اړتیا په صورت کې په بیړنیو حالاتو، طبیعي او غیر طبیعي پیښو او نورو بحرانونو کې له ملکي خلکو سره مرسته د ملي اسلام اردو د دندو څخه ده، چې په ۱۴۴۴ کې، د ملي دفاع وزارت لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.

- د سالنګ د اور لګیدنې په پیښه کې دد ۲۲۱ شهید افتاب فرقې د اور وژنې منسوبین، د ۲۱۷ عمري قول اردو ځواکونه او د صحیه قوماندانۍ د اطفایې سټیشن د بند پاټي هېوادوالو د ژغورنې لپاره لیږدول شوي چې په ۱۰ پروازونو کې ۱۹۵۰ کیلوګرامه وزن روغتیایي ټیمونه، خبرنګاران، درمل او نور اړوند توکي د پېښې سیمې ته لیږدول شوي.
- په مختلفو ولایتونو کې ۱۷۸۵۷ کیلو متره سړک د واورو څخه پاک شوی او د ترافیکو پر مخ لاره خلاصه شوې او د ۴۳۴ کیلو متره کې شګه او مالګه بعد له پاک کاریو څخه اچول شوې ده.
- په ۱۴۴۴ هـ ق کال کې جمعا ۲۱۱۴۶ کیلو متره سړک چې د سیلابونو او اورښتونو له کبله د هېواد په مختلفو سیمو کې ویجاړ شوی وو، بیرته پاک کاري او رغول شوی دی.

## ۱۵ د ستراتیژیکو اړیکو او عامه چارو ریاست په برخه کې

- د ملي دفاع وزارت د ستراتیژیکو اړیکو او عامه چارو ریاست یا د ویاند دفتر چې د ملي اسلامي پوځ منسوبینو د نظریاتو، فعالیتونو او لاسته راوړنو د انعکاس دنده په غاړه لري، تر اوسه پورې له عنعنوي میتودونو او عصري ټیکنالوژۍ (چاپ شوي خپرونې، ویب پاڼې، ټولنیزې شبکې او پاڼې، راډیو او تلویزیون، مرکې، خبري کنفرانسونه، د عامه ملاتړ ترلاسه کول، د اعلاناتو خپرول، او نور معلوماتي برخو ...) څخه د کار اخیستنې سره د نورو اړوندو مراجعو سره په همغږۍ کې، په ۱۴۴۴ کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي.
- د ډله ایزو رسنیو له لارې د هیواد د دفاعي ځواکونو د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه دقیق معلوماتو خپرول.

- د ملي دفاع وزارت د ویاند له خوا له ملي او نړیوالو رسنیو سره د ۲۳۰ ویډیويي او غږیزو مرکو ترسره کول.
- د ملي دفاع وزارت اړوند د ۶۷ برنامو پوښښ او انعکاس یې د ټولیزو رسنیو له لارې.
- د ملي اسلامي اردو د عامه چارو په برخه کې د قطعاتو او جزوتامونو د امرینو له پاره د ظرفیت لوړونې په برخه کې د ۲ سیمینارونو تر سره کول.
- د اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د عامه اړیکو امریتونو د ارزونې په موخه د ستراتیژیکو اړیکو او عامه چارو ریاست له خوا ۲ ځلې د هیت استول.
- د ملي اسلامي اردو د قطعاتو او جزوتامونو د ظرفیتونو، برخو او کتابچې د لوړولو په موخه دوه سیمینارونه جوړ او پیل کړل.
- د ملي اسلامي اردو د تعلیمي او مسلکي (لنډ مهاله او منځمهاله) کورسونو ته د درې دورو په ترڅ کې د عامه خدماتو ښوونځي ته، د عامه چارو د ۶۰ تنه منسوبینو، معرفي کول.
- د ملي اسلامي اردو د مرکزي او سیمه ییزو قطعاتو او جزوتامو منسوبینو د فعالیتونو په اړه، د ۴۸ نیم ساعته برنامو پلانګذاري، جوړول، ثبتول او د ملي راډیو او ټلویزیون له لارې خپرول.
- د ملي دفاع وزارت او ستر درستیز د قرارګاه اړوند منسوبینو ته د لوستلو فرهنګ د ودې او د پرسونل د عمومي او مسلکي پوهې د کچې د لوړولو په موخه د ۱۱۶۲ توکه کتابونو وېش.
- د ملي اسلامي اردو له خوا د دفاع نشریې په ۵ شمارو کې د ۱۰۰۰ نسخو او همدار راز په ۲۰۰۰ توکو کې د ۲۱ شمارو فصلنامو طرحه، برابرول او د هغې چاپول.
- د 207 الفاروق، 201 خالد بن ولید، 215 عزم قول اردو

  ګانو او د ځانګړو ځواکونو فرقې د څلورو یو ساعته اصدارو جوړول او نشر ته سپارل.
- د ملي دفاع ابوعبیده بن جراح «رض» پوهنتون، حربي ښوونځي، د جګړه ییزو ګډو زده کړو قوماندانۍ او د اسلامي امارت د خپلواکۍ د لومړۍ کلیزې د نمانځلو په مناسبت د بګرام نظامي رژې څخه تعلیمي، تمریناتي، تطبیقاتي او د محصلینو فراغت غونډې د مراسمو له بهیر څخه ۴ مورده بشپړ ویډیو کلیپونه چمتو او نشر ته سپارل.

## ۱۶ د مالي او بودجې په برخه کې:

- د افمیس (د افغانستان د مالي معلوماتو مدیریت سیستم) بي پت (د بودجې او مصرف د جوړونې او تعقیب سیستم) سیستمونو څخه په ګټه اخیستنې سره د ملي دفاع په وزارت کې د مجاهدینو او کارمندانو معاشونه په شفافه توګه د ۱۴۰۱ مالي کال د قطعیه پر اساس د مالي زوارت ته لیږدول شوي او د مصارفو د راپورونو مالي راکړه ورکړه د ملي دفاع وزارت نه د مرکزي بانک له لارې ترسره شوي دي.
- په ۱۴۰۱ مالي کال کې د ملي دفاع وزارت ۴۰۰۱۷۴۷۶۲۰۸ افغانۍ د افغانستان اسلامي امارت د داخلي عوایدو څخه د مالې وزارت له طریقه لاسته راوړي چې د منظور شوې بودجې څخه ۸۹ سلنه جذب شوي دي.

- د ۱۴۴۴ هـ ق کال کې ۱۳۵۹۰۱۷۷ افغانۍ خالص عواید او ۱۲۷۲۳۷۴۵۰ افغانۍ نا خالص عواید راټول شوي او په ۳۰۰۰۲۰۸۲۰۴۰۶۱ حساب اکونټ بانک ته تاویل شوي دي.

## ۱۷ د ۱۴۴۵ هـ ق کال عمده پلانونه:

- د ملي اسلامي اردو د ظرفیتونو لوړونه په بېلابېلو کچو باندې.
- د پالیسي ګانو، لارښوونو او طرزالعملونو بیا کتنه.
- د دفاعي او امنیتي ورتیاوو د اړتیا پر بنسټ د ملي اسلامي اردو د جوړښت او تشکیلاتو بیا کتنه.
- د وسلو، محاربوي تخنیک او نورو پوځي تجهیزاتو اکمالول.
- د اړتیاوو پر اساس د نوو تاسیسات، ډیپوګانو او ذخایرو پراختیا او جوړونه
- د ملي اسلامي اردو د قابلیتونو لوړونه او د نورو امنیتي ارګانونو سره د همغږۍ رامنځته کول.
- د هېواد په زیانمنوونکو سیمو کې د اوپراسیونونو پلان کول او پلي کول.
- د محاربوي احضاراتو لوړول او د سایکلونو پلي کول(ښوونه او روزنه، اوپراسیوني فعالیتونه، رخصتي)
- د ملي اسلامي اردو د شهداوو او معلولینو د ورثوو څخه ساتنه او د هغوی د امتیازاتو ورکول په ټاکلي وخت.
- د منظور شوې بودجې پر اساس د معیشتي، مالي، لوژیستیکي، صحي او حفظ و مراقبت د چارو پر مخ وړل.

پورتني ګزارش د ملي دفاع وزارت د ۱۴۴۴ کال فعالیتونو او لاسته راوړنو او د ۱۴۴۵ کال د عمده پلانونو راپور محترم لوړ مقام ته وړاندې شو